**ليکونکی:** برادلی دېلين «Bradley Devline».
**منبع اود خپرېدو:** انتی وار نيټه «2021-11-24».
**ژباړونکی:** پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل».

-----------------------------------------------------------

# دطالبانو دهويت يا دهغو دنښی نښاني دنوم بدلون

## The Taliban's Big Rebrand

**طالبان نه يوازې داچي دنړی له هيوادونو څخه د خپل حکومت د په رسميت پيژندلو غوښتنه کوي بلکه داسلام دنورو اړينو څانګو څخه افغانستان ته ملاتړي غواړي**

***The Taliba is not only courting recognition from world Governments , but featly from other branches of Islam within Afghanistan***



ويکی ميديا کما نس «Wikimedia commons»

هغوی ته دهغوی د حکومت یا د دولتمداری د بين المللی په ډګرکی دپه رسميت پيژندلو موضوع ډير مهم دي نو په هر صورت سره طالبانو مهمه هڅه اوانـد دادی چي هغوی دکور په دننه کي د خپل هويت يا د نښی نښانی يا دخپل کړني په بدلون سره په

دي هیله چي ګونډي دهیواد د ننه په مختلفو سیمو کی د مختلفو توکمنو او مذهبی ډ لو افغا نا نو ته خپل واک ته بیا له سره مشروعیت ورکړي هلی ځلی کوي .

په هره بڼه دامریکی داوریدونکو لپاره که دا مسله تېکان ورکونکی هم اووسی ، او هغه هم بیا په ځا نګړي بڼه وروسته له دی چی پر افغا نستا ن با ندي د متحده ایالاتو تر یرغل یا اشغا ل شل کاله دوام وکړ او د بهرنی پا لیسی په نظرکی نیولو سره د نها دونو یا د ا نستیتونو په جوړولو کي تیر او یا غوښتلی چي څو نورکلونه(پنځه یا لس) هم په جنګ جګړه کی لا پسی اوږده کړی- نو طا لبا نو د ولوید یځو رسنیو او د حکومتونو دتایید یا دملاتړ دترلاسه کولو لپا ره لوی اندیښنی دظاهری معتدل تګ لاری په پرتله هڅی او اند وکړ چی هغو سلفی امامانو(مذهبی پیشوایان ) کوم چی طا لبا نو ته بعیت کوی هغو ته دخراسا ن دڅانګی داعش داسی وروپیژنی چی نور هغوی ددی توان نه لری چی خپل صفوفو لپاره جنګیالی را جلب او جذب کړی نوطالبانو دهمدی توضیح یا تبلیغ په رڼا کی داسی ادعا کوی چی دخراسان دڅانګی داعش دهغو دحکومت اود دولتمداری یا دامنیت دسنونزمن کیدو لپاره کوم ګواښ نه دی یعنی چی زمونږ دحاکمیت په وړاندي خنډ کیدای نشي – حا ل داچی داعش اوس هم د طا لبا نو دامنیت لپاره سترخنډ رامینځته کړی اوبیا په ځانګړي بڼه دا فغا نستا ن په ختیځ سیمه یا ننګرهارکی چی د داعشیا نو نفوس اودهغو د تبلیغاتو لړی زیا ت دی .

د طا لبا نو هڅی دافغانستان په دننه کي دخپل نوم یا دهویت دبدلون لپاره مخکي له دي چي د روان کا ل ددوبی په وروستیو کی دا فغا نستا ن د هیبت حا کمه په بڼه د حکومت چاری ترلاسه کړي په کال «2020» دمارچ په میاشت کي دافغانستان دسلفیانو دشورا غړي دخپل **امیر شیخ عبدالعزیز«نورستانی»** په مشری دطا لبا نو له مشرانو سره وکتل اود طالبانو مشر **شیخ هیبت الله« اخوندزاده»** ته خپل بیعت وړاندی کړ چی دهغه له خوا ومنل شو ددی غونډی (شل دقیقی) ویډو دطالبانودالامره ستډیو چی د طا لبا نو له رسنیو څخه دی د سلفی علما و د وفاداری د ژمنتیا تر سر لیک لاندی نشر شوه او په هغه کي داسی ادعا وشوه چي (نورستانی) د (۳۲) افغان سلفی علماوو اوافسرانو سره یوځای وه چي خپل بیعت د طا لبا نو مشر **ملا هیبت الله (اخوند زاده )** ته وړاندی کړل اود طا لبا نو څخه ووغوښتل چي دخراسان دڅانګی دداعش دجنګیالیوسره دجنګ جګړی څخه لاس پر سر شي کومچی دوی دهغو ملاتړ نه کوی ځکه چي دوی باورلری چی د دوی وحشت داسلامی لارښوونو خلاف دي که څه هم دخراسان دڅانګی داعش دافغانی سلفیانو اود طا لب د مخالفینو له خوا تا سیس شوی یا رامینځته شوی ، سلفیانو ادعا وکړل چي د طا لبا نو په وړاندي دخراسان دڅانګي د داعش جنګ جګړه د یهودیانو اود صلبیا نو یونړیواله دسیسه ده.

تر دې غونډې مخکې طا لبا نو په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې د داعش ډلې جنګیالیو ته په جګړو کې ماتې ورکړې وه او د فبرورۍ په وروستیو کې طالبانو له امریکا سره د دوحې تړون لاسلیک کړ . دې پېښو د افغان سلفیا نو له شورا سره په خبرو اترو کې د طا لبا نو دریځ پیاوړی کړ .د دوحې تړون دا روښا نه کړه چې طا لبا ن به د متحده ایالاتو

له وتلو وروسته به هم پاتې شي، چې طا لبا ن يې د افغا ن سلفيانو شورا ته د يادولو ليواله وو . په داسې حال کې چې دواړه په عملي او ديني لحاظ سره اختلاف لري، طالبانو سلفيانو ته وويل چې د دوی ملاتړ يو روښا نه او يوازينی انتخاب دی ، **او له سلفيا نو سره يې ژمنه وکړه چې د طا لبا نو تر کنټرول لاندې افغانستا ن کې به د اسلام ټولې فرقې په آزاده توګه عمل کوي .** طالبان به د عمل په پرتله په تيوري کې ژمن وي .

بيا، طالبانو او د افغان سلفيانو شورا دواړو ته څرګنده ښکاريده چې طالبان به يو ځل بيا د امريکا له وتلو وروسته د افغانستان او يا لږ تر لږه د هغې پراخې برخې تر کنټرول لاندې راولي .دا په داسې حا ل کې ده چې د بهرنی تګلارې د جوړوني غړي ادعا کوي چې د افغا نستا ن اسلامي جمهوريت او افغان امنيتي ځواکونه چې د هغې يعنی د افغا نستا ن د سا تنې لپاره روزل شوي، له امريکا پرته به سقوط ونه کړي .البته، د امريکا دکارپوها نو طبقه به دا اټکل يو کا ل، بيا شپږ ميا شتې، بيا درې، او دا سې نور له سره بيا کتنه وکړي – حال داچی دمتحده ايالاتو دپوځ ملاتړ دافغان دپوځ سره شتون درلود بياهم دافغان پوځ اود امريکی دځواکونو دملاتړ په لرلوسره سره دافغان حکومت وروسته له (72) ساعتونو سقوط وکړ .

په هرصورت، له هغه وخته چې طالبانو کابل ونيولو او د هيواد حاکم ځواک شو، ټول د سلفيا نو او طالبا نو ترمنځ د 2020 کال د مارچ په غونډه کې هغه تعهد د پلان سره سم ندي ترسره شوي . طا لبا نو په تقريباً شلو ولايتونو کې د سلفيا نو له دريو څخه د زياتو جوماتونو او مدرسو دروازې تړلې دي .طا لبا نو هم په ټول هيواد کې د افغا نستا ن د يو شمير نفوذ لرونکو سلفيا نو پر ضد کمپا ين پيل کړی او ادعا کوي چې دوی د خراسا ن دڅانګي داعش- سره تړاو لري .په هرصورت، ډيری سلفي روڼ اندو چې اوس تر ګواښ لاندې دي مخکې له دې چې دخراسان دڅانګي داعش په ټول وجود کې وغندل شي، د داعش د هغه وخت مشر ابوبکر البغدادي ته د وفادارۍ د ژمني څخه نيولې بيا تر د ملکي خلکو په وړاندې د هغې وحشت پورې هر څه غند لي دي .

طالبانو هم د اګست په ۲۸ مه يو مشهور **سلفی عالم شيخ ابو عبيدالله متوکل** په کابل کې له خپل کور څخه د داعش- خراسان سره د تړاو په تور تښتولی و يا اختطا ف کړی وه **متوکل** يوه اونۍ وروسته په بې رحمۍ سره ووژل شو . د يا دولو وړ ده چې په يو وخت کې افغا ن حکومت **متوکل** له داعش سره د تړاو په شک نيولی و . په هرصورت، داعش- خراسان د داعش خلافت په وړاندې د هغه د دريځ له امله د **متوکل** د مړينې په وخت کې د هغه لپاره هيڅ لمونځ نه دی کړی.

دطا لبا نو وياند **ذبيح الله مجاهد** د **متوکل** په تښتولو او وژلو کې د طالبانو لاس لرل رد کړل . پداسې حال کې چې د هغه په ټويټ کې د وژنې غند نه نه ده شوې، مجاهد ادعا کړې چې طالبا ن به د هغه د ورکيدو او وروسته د مړينې په اړه تحقيقات وکړي .په ورته وخت کې د **متوکل** کورنۍ وايي، چې **متوکل** وسله والو طا لبا نو تښتولی دی .

طالب جنګيالي په مختلفوسيمو کې خپاره شوي اوادعا کوي چې حتی د سلفي عا لما نو د نيولو هڅه کوي،مګر ډيری يې د**متوکل** له تښتول کيدو وروسته پټ شول لکه **عبدالظاهر**

***داعی***، استاد ***معروف راسخ***، ***شیخ احمد شاه*** او ***شیخ سردار ولي*** .ایا دا تبنتوني د طالبانو د لوړ پوړو چارواکو لخوا امر شوي او که نه، یا د محلي طالب جنګیالیو لخوا په خپله خوښه ترسره شوي، موږ به هیڅکله پوه نه شو.

په هرصورت، ټول حالات دا څرګندوي چې طالبانو په حقیقت کې له سلفیانو سره خپلې ژمنې مات کړي دي .د داعش خراسان– سره د یوځای کیدو یا ملاتړ کولو څخه د افغانانو د هڅولو او په افغانستان کې د خپل ځمکني کنټرول سا تلو لپاره - بیا په ځا نګړي توګه په ختیځ کې د ډیرو سلفیا نو په شتون سره - داسې ښکاري چې طا لبا ن د سلفیانو په وړاندې د همکارۍ او جبر دوه ګونی چلند غوره کوي . خو د دوی ستراتیژي د دې پر ځای چې دا روښا نه کړي چې طا لبا ن به سلفیت زغمي ، خو د داعش - خراسا ن په وړاندې بې زغمه پا تې کیږي .

که دوی دخپلې تګلارې له بدلولو ډډه وکړي، او له سلفیا نو سره د کړې ژمنې د سا تلو لپا ره نورې هڅې وکړي، ***طا لبا ن ښا یي هغه څه له لاسه ورکړي چې شل کا له یې د بیا ترلاسه کولو لپا ره انتظار کا وه .***

## دلیکوونکی په اړه څو کرښې :

یډلي ډیولین د امریکایی محافظه کارانو لپاره د کارمندانو خبریال دی پخوا، هغه د ډیلي کا لر لپاره تحلیلي خبریال و، او په ډیلي تا ر او د ډیلي سیګنا ل کې خپور شوی، د نورو خپرونو په منځ کې چې د "ورځنۍ" کلمه نه لري .هغه د کالیفورنیا پوهنتون، برکلي څخه د سیاسي اقتصاد په برخه کې فارغ شوی .تاسو کولی شئ براډلي په ټویټر @bradleydevlin تعقیب کړئ.



یډ لي ډیولین

------------------------------ **په درناوی «29-11-2021»**